DAILY

اراده

د افغان نشراتي مرکز مشي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال سوم شماره چهل و یکم
شماره، مسلسل ۱۲۱
یکشنبه ۱۱ حوت ۱۳۸۱ هـ . ش
۲۹ ذولحجه الحرام ۱۴۲۲ هـ . ق
2 March 2003

PROPERTY OF ACKU

د پولیسو د کړو، وړو پر ضد لاریون

پرون د کابل د غرب د دشت برچي دسیمو په سلګونو اوسیدونکو ددغه سیمې د پولیسو او امنیتي چارواکو د چلند پر ضد لاریون وکړ.
لاریون کوونکو غوښتنه درلوده تر څو ددغې سیمې امنیتي حوزه ورته هغه دوه پولیس وسپاري چې تېره ورځ یې د یوې ښځې د تښتونې ناکامه هڅه کړې وه. دغه خلك وایي چې دغو پولیسو غوښتل چې یوه ښځه وتښتوي خو ځایي هتیوالو او خلکو دا هڅه له ماتې سره مخ کړه.
دسیمې خلك د امنیتي حوزې له کړو ناراضه دي او تور لګوي چې د حوزې ټول مامورین غله او په نیشو روږدي کسان دي.
د حوزې یو مسوول وایي چې دوی د لاریون کوونکو غوښتنه تر لورې پورې وڅېړي. غلاو او نورو پېښو مخه ونیسي.
وروستې پریکړه به له هغه لوري کېږي. د کابل په غرب کې دغه حوزه په دې وروستیو کې نوي جوړه شوه تر څو د وژنو، غلاو او نورو پېښو مخه ونیسي.

تنها کتاب های خوب می توانند ما را از محیط های
نامناسب مثل مراکز اندیشه بکشانند. خوبست در انتخاب
کتاب های که برای مطالعه بر می گزینید، سختگیر باشید

دښوونځي مالونه لوټ شول

د کندهار ولایت د پنجوایي په ولسوالی کې د عینو له ښوونځي څخه نامعلومو کسانو د ښوونځي اړوند مالونه لوټ کړي دي.
په دغه ښوونځي کې دری سوه اویا زده کوونکي زده کړه کوي چې پنځوس یې نجونې دي.
دکندهار د ښوونې او روزنې د رئیس محمدداود بارک په وینا دغه لوټ او تالان د هغو کسانو کار دی چې د نجونو له زده کړې سره مخالفت لري.
څه موده وړاندې هم ددغه ولایت ځینې نجونې په دې ګناه ځورول شوې وې چې ولې ښوونځیو ته ځي.

اسماعیل خان ایران ته ولاړ

د هرات والي تورن اسماعیل د یوه رسمي سفر په ترڅ کې پرون د ایران پلازمینې تهران ته ورسېدو
د هرات د بهرنیو اړیکو د ویاند محمد الله افضلي په وینا له دې سره دیارلس کسه نور د سفر ملګري دي.
دې به د ښاغلي کرزي خانګړی پیغام ښاغلي خاتمي ته ورسوي. دا سې بریښي چې دې به له ولسمشر محمد خاتمي او د ایران د بهرنیو چارو له وزیر سره د مخدره موادو په وړاندې د کډې مبارزې، د سوداګرۍ د لاپسیاوړتیا او له افغانستان سره د ایران پر مرستو بحث او خبرې وکړي.

یو ځایي قوماندان ونیول شو

د ننګرهار د شینوارو د لویې ولسوالی د پولیسو قوماندان د امریکایي ځواکونو له خوا ونیول شو.
د عیني شاهدانو په وینا محمد غالب تیره ورځ د امریکایانو له خوا ونیول شو او تر اوسه یې ځای ځایکی معلوم نه دی. د شینوارو لویه ولسوالي په ننګرهار کې د کوکنارو د کښت او کروندې ستره سیمه ده ددغو شاهدانو په وینا کېدلای شي محمد غالب یې په دې تور نیولي وي چې د کوکنارو د کښت په له منځه وړلو کې یې سستي او تمبلي کوله.

د ایراني مالونو نندارتون

پرون په کابل کې د ایراني تولیداتو لومړنی نندارتون د خلکو پر مخ پرانیستل شو. ددغه نندارتون مالونه د کابل نندارې په انګړ کې دخلکو د لیدلو لپاره اېښودل شوي وو.
ددغه نندارتون زیاتره شیان د کرهڼې وسایل او خوراکي توکي وو. ددغه نندارتون ویاند محمد بیستوني ووېل چې ددوی موخه دا ده تر څو افغان سوداګر دې ته وهڅوي چې له ایراني شرکتونو سره په ټرون کولو ایراني مالونه خپل هېواد ته راوړي. تر دې مخه هم په کابل کې د هندي مالونو یوننداړتون د خلکو نندارې ته پرانستل شوی و.

رهبران عرب از تقاضای رمزفیلد حمایت نمی کنند

اجلاس عرب لیک دیروز در مصر دایر گردید عکس العمل متحدی را در باره بحران عراق و امکانات احتمالی جنگ علیه عراق به رهبری امریکا، مورد بحث قرار دهند. یک هئیت بیست و دو نفری نیز در ایمن نشست که در شهر شرم الشیخ دایر گردیده بود اشتراک داشتند.
در این گردهمایی روی مخالفت مشترک علیه عملیات نظامی بر عراق که پشتیبانی ملل متحد را نداشته باشد بحث صورت گرفت همچنان انتظار می رود که سران عرب در این نشست از عراق تقاضا کند تا آنکشور با مفتشین سلاح همکاری همه جانبه نماید. احمد ماهر وزیر خارجه مصر گفت: اشتراک کننده گان از تقاضای دونل رمز فیلد وزیر دفاع امریکا که گفته بود رهبران عراق باید صدام را ترغیب نماید تا رهبری خود را ترک بگوید حمایت نخواهد کرد.

پارلمان ترکیه گسترش نیروهای امریکایی را مورد بحث قرار داد

پارلمان ترکیه دیروز در مورد گسترش شصت و دو هزار نیروی امریکایی در این کشور به خاطر جنگ با عراق به بحث و مذاکره پرداخت. مقامات بلند پایه نظامی و رهبران سیاسی روز جمعه در شورای امنیت ملی آن کشور هم مسئله عراق را مورد بحث قرار دادند. ولی در مورد چگونگی رای پارلمان در باره گسترش نیروهای امریکایی تبصره یی ننموده اند.
ترکیه تحت فشارهای قوی ایالت متحده قرار گرفته تا هر چه زودتر اجازه گسترش نیروهای امریکایی برای آماده گی جنگ احتمالی عراق را صادر نماید.
ترکیه از ایالات متحده می خواهد تا در بدل خسارات ناشی از جنگ که به ترکیه وارد خواهد شد به آن کشور صد ها میلون دالر بپردازد. ترکیه همچنان خواستار اطمینان شده است که در صورت جنگ به کردهای عراق اجازه داده نشود تا یک دولت مستقل خود را اعلان نمایند زیرا این امر باعث ترغیب کرد های ترکیه خواهد شد.

وضع تحریم بر اعلانات تنباکو

مذاکره کننده گان بیش از یکصد و هشتاد کشور جهان دیروز بر عقد موافقت نامه یی تایل آمدند که بر اساس آن، بالای اعلانات محصولات تنباکو تحریمات بیشتری وضع خواهد شد.
این نخستین موافقت نامه جهانی صحت که یک چارچوب کنترول بر تنباکو را احتوا می کند. دیروز در جینوا از طرف اعضای سازمان جهانی صحت ملل متحد پذیرفته شد.
بر اساس این موافقت نامه بر کمپنی های که اعلانات محصولات تنباکو را پخش می نمایند تحریمات وضع خواهد شد که می تواند سبب کاهش مرگ، شماری از مردم شود.

عراق الشمود دو هلیش را ناڅوده وی سازه

مقامات عراقی و ملل متحد دیروز در مورد جزئیات مکملی پروسه از بین بردن راکت های نوع الشمود دوی عراق به بحث و مذاکره آغاز نمودند.
مقامات عراقی به روز جمعه گفته بودند که عراق آماده است تا مطابق به هدایت مفتشین ملل متحد از بین بردن راکت های نوع الشمود دو را از روز شنبه آغاز کند. هانس بلیکس رئیس مفتشین سازمان ملل متحد در باره این تصمیم عراق گفت: تصمیم از بین بردن این راکت های عراقی یک بخش عمده یی از خلع سلاح حقیقی می باشد. گمان می رود عراق بیشتر از صد مزائیل الشمود دو را تولید کرده باشد.

له هیواد سره مینه تر تولو مینو اوچته ده

۲- مخ

راتلونکی د ځوانانو ده

۲- مخ

د ګوتې او ښیونکې خدای په نامه

سرمقاله

آیا تنها "اطمینان" می تواند جوابگوی وضعیت موجود باشد!

اظهارات جناب حامدکرزی رئیس اداره انتقالی اسلامی افغانستان طی یک کنفرانس مطبوعاتی در واشنگتن پس از دیدار هایش با جورج بوش رئیس جمهور امریکا، رمزفیلد وزیر دفاع و مجلس سنای ایالات متحده امریکا مبنی بر اینکه حکومت ایالات متحده برای ما اطمینان کامل داده است که در صورت حمله بر عراق باز هم ایالات متحده امریکا افغانستان را فراموش نخواهد کرد. نه تنها توقعاتی را که از این سفر و از این ملاقات ها انتظار می رفت بر آورده نساخت بلکه بر آن اندیشه ها و دلهره ها قوت بخشید که از بی علاقه شدن امریکایی ها در پروسه باز سازی افغانستان سر چشمه می گرفت

به تعویق افتادن و رکود در پروسه کاری پروژه های که از طریق مراجع امریکایی در کابل تمویل می گردید طی دو هفته اخیر برای افغانها از پس اظهارات منابع المانی در رابطه با خروج نیروهای ملکی و نظامی ایشان و همچنان انتقادات شدید الحن اقای خلیل زاد از رهبری افغانستان هوشدار دهنده بود و از سوی دیگر سفر غیر مترقبه هیات بلند پایه نظامی افغانستان به ایالات متحده امریکا به دعوت وزیر دفاع آنکشور که به آن سرو صدا ها امکان گسترش داد که درز عمیقی که بین محترم حامد کرزی را به چند دسته تقسیم می کند و هر دسته باید خود بخودی خود بخاطر تعهداتش تضمین های بسپارد و یا آنها را تجدید نماید.

یکبار دیگر ملت افغان را که به صلح و تامین امنیت در کشور دلبسته وا میدوار گردیده بود هراسان و مجبور به تجدید نظر روی تصامیمی که بر آینده خود و کشورش اتخاذ نموده بود ساخته است زیرا تنها "اطمینان" نمی تواند جوابگوی وضعیت موجود باشد و مردم گام های عملی در

عصر اتم کمپیوتر و سگ جنگی در قلب شهر کابل

عصرکنونی که با استفاده ازقوه اتم ،وسایل کامپیوتری وسایر اکتشافات ،که درعرصه های مختلف علوم صورت گرفته به سرعت درحال ترقی وپیشرفت بوده واکثرملل جهان با استفاده ازدست آورد های علمی خویش ویا بااستفاده از دست آوردهای سایر ملل جهان جهت بهبود وضعیت زنده گی خویش وترقی و تعالی کشورهای شان شب وروز درتلاش بوده ومسوولین دولتی و افراد آنها با استفاده از تقسیم اوقات کاری ،کوشیده اند ،که کوچکترین وقت ایشان بی نتیجه ودربیکاری سپری نگردد .وهمچون پرزه های فولادی ماشین بدون خستگی کارخویشرا ادامه میدهند ودرنتیجه سعادت،رفا ه وخوشبختی را نصیب گردیده اند .

اما تاجائیکه درکشور مادیده میشود ،برعکس صورت میگیرد وارزانترین و بی ارزشترین چیزیکه دراین کشوربه نظر میرسد ،وقت است و(این وقت بی ارزش و بی چاره) چه دردوایر دولتی وچه درخارج ازآن، بدون آنکه مورد استفاده معقول قرارگیرد اکثراً سپری میگردد .

درکشورما که تازه اززیر سایه دود با روت وجنگ بیرون آمده لازم است مسوولین وافراد عادی بیشترازاوقات رسمی کاروفعالیت نمایند ومسوولین وظیفه دارند ،که با تهیه برنامه های کاری وبا استفاده ازسایر شیوه ها منسوبین دوایر دولتی وافراد خارج ادارات را مصروف کار نموده وازضیاع وقت ایشان جلو گیری نمایند . اما متاسفانه طوریکه دیده میشود دراین اواخر درروزهای جمعه صدها نفر ازهموطنان ما درچمن ببرک جهت تماشای سگ جنگی گردهم می آیند وده ها قلاده سگهای بی زبان را با هم به جنگ انداخته واز تماشای آن لذت می برند ، درحالیکه این عمل ازنگاه شریعت اسلام بصورت قطعی ناروا وغیر مجاز بوده ، عاملین وتماشاگران آن گنهگار می شوند .وجالب آن است ،که میدانهای سگ جنگی زمان مضحک وخنده آور می شود .که دواثر خلاف رفتاریهای سگهای جنگی ویا سوتفاهم میان مالکین وطرفداران آنها نزاع وبلاخره برخورد بمیان می آید ومالکین سگها همزمان با سگهای خویش داخل جنگ وزدوخورد میشوند وتماشاچیان خوش شانس بدون اخذ تکت همزمان دونوع جنگ را تماشامی نمایند .اما با تاسف که جریان همچو بازیها منفی با عصر کنونی اتوم ،کمپیوتر وپیشرفت بشر درسایر کشورها به هیچوجه قابل مقایسه نبوده وبدبختانه هیچیک ازارگانهای دولتی درقسمت جلوگیری همچواعمال ناپسندیده ،احساس مسوولیت ننموده ،بلکه تاجائیکه دیده می شود یکتعداد افراد مسلح پولیس وگارنیزیون نیز درجمع تماشاچیان حضورداشته می باشند وبه گفته تماشاچیان مالکین سگها جنگی اکثراً آشنایان بعضی از قوماندانان بوده وبه اثر تشریق آنها ،سگ جنگی ها صورت میگیرد . امید برآن است،که جوانان ما بجای تماشای همچو بازیهای منفی،وقت گرانبهای خویشرا صرف تعلیم وآموزش نموده وجهت ترقی وتعالی کشورتلاش ورزند وبه مسوولین امنیتی لازم می افتد ،که از راه اندازی همچو گردهمائی های مضحک وشکنجه دادن حیوانات بی زبان وبی گناه جلوگیری بعمل آورده ومسوولین قضائی نیز باید درزمینه طورقانونی عمل نمایند ،تاجلو همچواعمال سد گردد ، زیرا قانون مدنی نیز مخالف جنگ انداختن حیوانان وطیور می باشد .

محمد اشرف حنیفی

د هغوا سره مینه ترلوی مینو اوخته ده

هېواد او وطن هغه خوږ نوم دی چې د انسانانو هستي او نیستي ورسره ترلي دي، انسانان په خپل خواږه هېواد کې د سوکالۍ او ارامۍ ژوند لري ځکه خو نو هر انسان تر بل هر څه زیاته له خپل هېواد او وطن سره مینه لري، د خپل وطن آبادي او ښیرازي یې یوازینۍ هیله وي او د زړه له کومې غواړي چې وطن یې د نړۍ پر مخ سر لوړی او اوچت وي.

افغانان خو هسې هم له خپل وطن سره د مینې مثالي نوم لري او د تاریخ په اوږدو کې یې د خپل خواږه وطن لپاره د سر او مال زیاتې قربانۍ ورکړې دي خو د خپل هېواد نوم او ننبان یې اوچت ساتلی دی، افغانان په دې ویاړي چې د وطن د خپلواک ساتلو او آبادۍ په لار کې قربانۍ ته خپل سرونه او مالونه وراندې کړي او افغانان په دې افتخار کوي چې د تاریخ په ببلوببلو پراونو کې یې بهرنۍ یرغلګر او تاراکګر د خپلو عملونو په سزا رسوي او افغاني شمله یې هسکه ساتلې ده.

افغانانو د سرونو او مالونو د قربانۍ پراونه شاته پر ایښي دی او اوس د وطن د آبادۍ اوښیرازۍ په درشل کې دي ځکه خو یې نودې ته ټینګه ملاتړلې ده چې د خپل وطن کنډوالي به بیا ودانوي، خو په دې هم پوهیږي چې دغه کنډوالي په ځانګړې توګه نه شي ابادیدلای، دا کار یووالي او وحدت ته ضرورت لري نو له دې املې ملي وحدت او یووالی هم له پامه نه غورځوي او کوښښ کوي چې د ملي یووالي په برکت هغه ټول مشکلات له منځه یوسي چې زمونږ هېواد ورسره مخامخ دی.

په وحدت او ملي یووالي کې یو داسې قوت پروت دی چې د نړۍ هېڅ قدرت یې مقابله نه شي کولای او ملي یووالی دیوه هېواد د وګړو هغه مهم ضرورت دی چې پرته له هغه څخه هېوادونه د نابودۍ او تباهۍ په لور مخه کوي، نو له دې املې افغانان د ملي یووالي پر ضرورت له پخوا څخه زیات پوهیدلي دي او زیار باسي دغه مرغلین مزی دومره مزبوت او پیاوړی کړي چې هېڅ د غرض لاسونه یې په سستولو بریالي نه شي.

مونږ په دې باور لرو چې زمونږ مسلمان خلك له خپل خواږه وطن سره د بې کچه مینې په درلودلو سربېره پخپلو کې هم خوږه وروري نه هیروي چې دا د وطن له مینې سره موازي روان حرکت دی او د همدې مثبت حرکت او چې پرته له هغه څخه خوښېت له برکته به مونږ وکړای شو چې یوځل بیا نړیوالو ته له خپل وطن سره د مینې ثبوت وراندې کړو، دا مېنه همیشنۍ او تلپاتې مېنه ده او ددې مینې په برکت هېوادونه د ترقۍ او پرمختګ لوړپوړیو ته رسیږي، مونږ هم هیله لرو چې وطن مو له ورځینبو بدبختیو او کړاونو څخه نجات ومومي او مونږ د سر لوړو افغانانو په توګه پخپل سرلوړي تاریخي هېواد کې د ویاړ او افتخار ژوند ولرو او هغه ورځ لرې نه ده چې خپل دغه عالي هدف ته ورسیږو.

دفلسطینانو په وړاندې د پېړۍ ناوړه ستراتژي

ش. زیارمل

کله چې په ۱۹۶۷ عیسوي کال جمال عبدالناصر د تیران تنګي چې د عقبه خلیج او سره سمندرګي تر منځ لاره وه د اسرائیلو د بهیرو پر مخ وترله او دملګرو ملتو د وخت له سر منشي ښاغلی اوتانت نه یې غوښتنه وکړه چې د غزې له ترانګي څخه نړیوال ځواکونه وباسي او په عین وخت کې یې د اردن له پاچاه ملك حسین سره اړیکې ټینګې کړې او غوښتل یې چې ۱۹۴۸ کال د اسرائیلو په وړاندې خپله ماتې جبیره کړي اسرائیلو هم د ۱۹۶۷ کال په جون کې کله چې د مصر او اسرائیلو د عسکرو تر منځ د ملګرو ملتو د میشت ځواکونه ووتل په دری واړو عربي هېوادو مصر، سوریې او اردن باندې دری اړخیزه او سملاسي برید پیل کړ. د مصري عسکرو له مقاومت سره سره اسرائیل پدې بریالی شول چې له مصر څخه د سینا دښته له سوریې څخه د ګولان ستراتیژیك ارتفاعات د فلسطینیانو څخه د بیت المقدس ښار او له اردن څخه لویدیځه سیمه ونیسي.

له هغه تاریخ نه بیا تر اوسه پورې سره له دې چې د ملګرو ملتو د امنیت شورا دوه خلې پدې اړه پریکړه لیکونه صادر کړل چې اسرائیل باید د ۱۹۶۷ کال له جګړې مخکې خپلو پولو ته ستانه شي خو یواځې مصر وکولای شول چې له اسرائیلو سره د جلا موافقه لیك په لاسلیك سره د سینا ستړي دښتې د اسرائیلو له لاس څخه وباسي خو د ګولان لوړې او د اردن لویدیځه سیمه او بیت المقدس لا هماغسې د اسرائیلو په لاس کې پاتې دي او هڅه کوي چې دغه عربي ځمکې په تلپاتې توګه په خپل واك کې وساتي.

د همدغه ناوړه هدف لپاره اسرائیلو په عربي خاوره کې د خپلې پراختیا پلانونه جوړ کړل او لاهوس هم د اردن په لویدیځه غاړه کې د اسرائیلو د ښارګوتو او استوګن سیمو د جوړولو لپاره په میلیونونو ډالر لګول کېږي چې خو میاشتې مخکې د همدغې مسئلې پر سر د کارګر ګوند چې مشر بې بن یامین نتنیاهو دی د شیمون پریز له حکومت څخه ووت او پریز دې ته مجبور شو چې له ټاکلې وخت نه مخکې انتخابات وکړي.

دغه انتخابات هم تر سره شول او د بده مرغه چې پدغو انتخاباتو کې د پریز ګوند "لیکود" بیا د خپل سیال ګوند څخه زیاتې چوکۍ تر لاسه کړې خو څرنګه چې د حکومت د جوړولو نصاب یې نه دی پوره کړې اوس دې ته اړ دي چې د کارګر ګوند د نه همکاری په صورت کې د خپنو سیکولر ګوندونو سره په ائتلاف کې یو خل بیا د فلسطینیانو د مظلوم اولس د خوړلو او خپلو په منظور خپل حکومت جوړ کړي او خپل طرحه شوي پلانونه تطبیق کړي.

مونږ په تېره نیمه پېړۍ کې د فلسطین د اولس په وړاندې چې د خپل سر نوشت او د خپلو خاورو د ازادۍ لپاره جنګېږي د اسرائیلو د زور زیاتي. پراختیا غوښتنې او دوامداره خوروني دریځ. نه د اسرائیلو د اولس لپاره او نه هم په سیمه کې د سولې ثبات. سراسري امنیت او پرمختګ لپاره ګټور بللی شو او نه هم د نړۍ د عامه ذهنیت د درناوي او نه د نړیوالو اصولو او موازینو د رعایت او په پام کې درلودلو سره د اسرائیلو اوسني له تیري او تجاوز نه ډك دغه دریځ سمون لري. نو مونږ هیله من یو چې د فلسطین د خوږدلو خلکو دغه ملي غمېزې ته د نړۍ سوله دوسته هېوادونه یو ځل بیا پام واړوي او پرې نږدې چې پریږ یو ځل بیا ددغه مظلوم اولس په وینو ولامبي او هغوی له خپل آزاد سرنوشت نه بې برخې کړي.

مونږ وایو چې د اسرائیلو چارواکي چې د یو تن خان وژونکی د تروریستي برید په خاطر په اونۍ کې یو خل دوه خلې د فلسطین د بې ګناه او مظلومو خلکو په کورونو باندې د تانکونو او الوتکو یرغل کوي په لسګونو کورونه ورانوي او په لسګونو خوانان د مرګ کومې ته غورځوي. د هغو اکثریت فلسطینیانو د سولې شعارونه او سوله ییز اوازونه ولې نه اوري چې په میتینګونو او غونډو کې سوله ییز ژوند غواړي. د هغو عربي هېوادونو آواز ولې نه اوري چې ورته مشوره ورکوي تېرې او تجاوز پای ته ورسوي او د ۱۹۶۷ کال له جګړې نه مخکې خپلو پولو ته وګرځي. عربي سیمې او د مسلمانانو لومړنۍ کعبه بیت المقدس خوشې کړي او د فلسطین مبارز او سربلندونکی ولس ته د آزادۍ په ورکولو سره د خپل هېواد مشروعیت او قانونیت تامین کړي او هر ډول مهاجرا غوښتنې پای ته ورسوي. مونږ پدې برخه کې د سوله دوستو خواکونو څخه هیله من یو چې په اسرائیلو باندې د ملګرو ملتو د امنیت شورا دوه تیرې تاریخي پریکړې ومني او دغه سترې بشري تراژیدي او د نیمې پېړۍ دوامداره غمېزه فلسطینیانو ته د حق خود ارادیت او آزاد سرنوشت له لاړې پای ته ورسوي. داده د ټولو بشردوستو خلکو غوښتنه او داده ددغې اوږدې، خورونکی او څپونکی ستراتیژۍ د پای ته رسیدو اصولي لار.



رانلونکی د ځوانانو نوده

د مخ چلوونکی: نوری

دا د کمپیوټر عصر دی

کمپیوټر د اوسنیو کلونو هغه نوی پرمختیاده چې له دی لارې ډیری اسانتیاوی رامنځ ته شوی. دغه راز انټرنټ بیا د کمپیوټر په تکنالوژی کې نوی وده ده چې د نړۍ اړیکی یې لا پسی پراخی کړی دی زمونږ هېواد هم ورو ورو د نوی تکنالوژی په لور دانګی خو چې وکولای د پرمختګ نوو پړاوونو ته ځان ورسوی. د افغانستان سره د مرستو د انسجام اداره یوه له هغو ادارو څخه ده چې په کمپیوټری ټکنالوژی سمباله ده او له کمپیوټر نه برسیره د انټرنټ اسانتیاوی هم په لاس کې لری. دادی د دغی ادارې د کمپیوټر د ځانګی له دوو وتلو ځیرو سره مو مرکه کړی چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

د افغانستان لپاره د مرستو د سمون اداری د کمپیوټر د ځانګی آمر محترم سیدمرجان "ځاځی" دئ. دی وایی زه د کمپیوټر ساینس په ځانګه کې دماسټر درجی زده کړه لرم. دغه راز محترم محمد تمیم نوری چې د کمپیوټر په ځانګه کې ډیپلوم لری د نومورې اداری د کمپیوټر د ځانګی د مرستیال دنده لری.

دوئ دواړه په ګډ نظر سره وایی: چې د نړیوال بانک له لوری یو کمپیوټری ویپسایټ د افغانستان انتقالی اسلامی دولت ته د انټرنټی اسانتیاوی لپاره د افغانستان سره د نړیوالی مرستی د سمون اداری ته ورکړ شوی وٴ چې دغه دستګاه د دوه زرو کمپیوټرونو لپاره د انټرنټ اسانتیاوی برابرولو آ شی.

بانک لپاره مو د انټرنټ اسانتیاوی برابری کړی دی. او انشاء الله زیار باسو څو چې په نږدی وخت ونو کې د افغانستان د دولت نورو ادارو او وزارتونو ته هم دغه اسانتیاوی برابری کړو.

محترم مرجان او محترم تمیم زمونږ ددی پوښتنی په ځواب کې چې نورو ځوانانو ته موپیغام څه دئ چې د کمپیوټری زده کړو سره علاقه لری ووایی!

ددی دستګاه چلول او د افغانستان انتقالی اسلامی دولت د وزارتونو او مهمو ادارو لپاره د انټرنټی اسانتیاوو برابرول زمونږ له دندو څخه ګڼل کیږی بناغلی مرجان او نوری زیاتوی:- ددی کار د پروژی لګښت د نړیوال بانک په غاړه دی او په لومړی سرکی مونږ د افغانستان د اسلامی انتقالی دولت مقر، د مخابراتو وزارت، د مالي وزارت او د افغانستان خوانانو ته په کار دی چې د کمپیوټری زده کړو ته خاصه پاملرنه وکړی ځکه چې نن ورځ د نړۍ په هېڅ هېواد کې ستری چاری پرته له کمپیوټر څخه نه سره کیږی ځوانان باید د کمپیوټر سره ځان بنه اشنا کړی چې کمپیوټر څه شی دی او له هغه ځخه د څه لپاره کار اخستل کیږی او مونږ څرنګه کولای شو چې له هغه ځخه بنه ګټه تر لاسه کړو. او بیا وروسته پل په پل په دې تکنالوژی ځانته د زده کړې زمینه برابره کړی او نور هم پر مخ ولاړ شي. نو که خدای غوښتی وی د هیواد لپاره به ستری بریاووی تر لاسه کړی ځکه کمپیوټر هغه وسیله ده چې د څو تنو او ان د څو دفترونو کار په یوازی سر سره تر سره کولای شی او انټرنټ نو بیا نوی دنیاده چې ډېری لاری لنډوی، د وخت لپاره ډېری ګټی لاسته راوړی او د معلوماتو لپاره لاښی زمینی برابروی.

هر هفته یک گفته

یک روز شیر، گرگ و روباه یک جابه شکار رفتند شیر یک گاوه گرگ یک گوسفند و روباه یک ماکیان آورده در یک جاجمع کردند. شیر روبه گرگ کرده گفت: شکار ها را تقسیم کن. گرگ به بسیار احترام عرض کرد: ای سلطان شکار ها در هم آمیخته نشده و برهم ریخته نیست تا قسمت پذیرد و حکم شراکت بر آن تعلق گیرد. مال هر یک تعین و موجود و تقسیم معلوم است. گاوه کلان حق سلطان، گوسفند لاغرحق چا کر و ماکیان چاق حصه روباه چالاک، حق به مستحق رسیده و مداخله در آن ظلم است. شیر بر جست و کله گرگ بر کندو به دور افگندو گفت: ای روباه تقسیم کن روباه تعظیم نموده عرض کرد: بهر شامت گاوه حاضر گوسفندت در پسین صبح اینک ماکیان و الله خیرالرازقین شیر با کمال رضا خندید و گفت: این شعر فصیح و تقسیم صحیح را از کجا یاد گرفتی؟ روباه گفت: از کندن کله گرگ.



جوانان، هویت و خود باوری

آیا سر از خود سوال کرده اید چه کسی هستید؟
آیا میدانید درچه دوره یی از زندگی خود قرار دارید؟
آیا توانایی های خود رامی شناسید؟
و آیا میدانید در آینده چه می خواهید انجام دهید؟

جوانی دوره یی است که شما در آن قرار دارید. در این مرحله از زندگی، شما با تغیرات وسیع جسمانی، اعمال ذهنی شیوه تفکر، روابط اجتماعی احساس و عواطف مربوط به خود روبرو هستید یک دوره نسبتاً طولانی که بر سلامتی دوران بزرگ سالی شما اثر مستقیم دارد. در دوره جوانی است که بسیاری از توانائی ها شکل گرفته و کامل می گردد.

یکی از موهبت های که در این دوران حاصل می گردد دستیابی به هویت است اینکه کشف کنیم چه کسی هستیم؟

توانایی های بالقوه خود را بشناسیم و در نهایت بتوانیم خود را توصیف کنیم. به عبارت دیگر رسیدن به یک هویت منسجم و باثبات و داشتن یک احساس خود قوی نسبت به خویشتن هویت چیست؟

ادراک هر یک از ما از خود به عنوان فردی مجزا از دیگران که دارای هماهنگی و وحدت در رفتار، نیاز ها، انگیزه ها و علایق می باشد هویت ماست که "احساس یگانگی و وحدت"، "احساس تداوم" و "احساس تقابل" را شکل میدهد.

با حضور این سه بخش، می توانیم به نگرش ها و ارزشهای ثابت دست یافته، تصمیم گیری نموده شیوه زندگی خود را تعین کرده و بالاخره به یک احساس خود قوی دست یابیم، اگر در دستیابی به هویت شکست بخوریم موجب درهم ریختگی و عدم ثبات در درون خود می شویم، یعنی نمی توانیم به سوال های مطرح شده درباره خود پاسخ دهیم. در نتیجه قادر نخواهیم شد به کشف خود نایل شویم. اما چگونه می شود به هویتی سالم و منسجم دست یافت؟

در رسیدن یک هویت منسجم، تایید دیگران، مقایسه اجتماعی و همانندسازی دارای اهمیت اساسی است تایید دیگران به معنای ارزیابی دیگری ما است.

انواع هویت:

معمولا ما در ابتدای جوانی در هویت مبهم قرار داریم. در این دوران دچار بی تصمیمی می شویم و نمی توانیم در مورد مسایل مختلف زندگی تصمیم بگیریم. بطور مثال اگر در این دوره از ما پرسیده شود که می خواهید چه کاره شوید می گوییم نمی دانیم.

علت این امر تغیرات سریع وهمه جانبه در ابعاد جسمانی، شیوه تفکر، روابط اجتماعی و عاطفی است که موجب می شود ما احساس تداوم خود را از دست بدهیم. شاید شما در بین دوستان وهم صنفی های خود کسانی رادیده باشید که در مورد خود احساس خوبی ندارند، دچار عدم ثبات شده اند، نمیتوانند تصمیم بگیرند، در کارها و فعالیت های خود مشکل دارند، از بر قراری رابطه صمیمی و نزدیک بادیگران ناتوان هستند و فردی سر در گم هستند. این علایم بیانگر آن است که این گونه افراد در هویت مبهم تثبیت شده اند. یا شاید گسانی را بشناسید که هدف های دیگران را هدف خود میدانند. معمولا به نقش های که دیگران برای شان تعین کرده اند قانع هستند به طور مستقیم و یا غیر مستقیم توسط دیگران هدایت می شوند.

زرنار هوتان

جمیله محصل انستیتوت طب کابل: سال گذشته به کمک یکی از دوستانم در پوهنځی طب کابل موفق گردیدم، او برای موفقیت من خیلی زحمت کشید. و در قسمت سوالات کانکور بامن همکاری کرده و یک سال تمام برای من تدریس کرد. مدتی می شود که مساله بین من و او به وجود آمده که باعث رنجش خاطروی گردید و به همین منظور از یک دیگر جداشدیم. حالا که من به اشتباه خود پی برده ام و می خواهم که باوی آشتی نمایم. وی نمی خواهد که با من روبه رو شود. چندین بار به خانه وی رفتم ولی با وی روبه رو نشدم. گرچه از مادرش خواهش کردم که در قسمت اشتباه که از من نسبت به وی شده است از طرف من ازوی معذرت بخواهد ولی معذرت مرا نمی پذیرد. نمی دانم چه کنم. اگردوستم معذرت مرا نپذیرد مایوس خواهم شد.

د دوځوانانو مینځ کې بحث

د هوټل په مینځ کې دوه ځوانان د غرمی ډوډی په خوړلو بوخت وٴ. یوه ځوان هغه فلم ته چې د هوټل په یوه سرکی د تلویزیون له لاری او د ویدیو سی دی په مرسته خپریده کتل او آن دومره ورته ځیر وه چې ډوډی خوړل یې هیروه.

کله کله یې داسې آواز له خولی وت چې ښودل یې د فلم اغیزه په ده لا ډېره ده د یادولو ور ده چې دغه فلم هندی وٴ. دوهم ځوان چې د نه وای نودی هوټل ته به هېڅ نوای راغلی. فلم کتونکی ځوان باندی دی خبری ډېره بده اغیزه وکړه او په ځواب کې یې ورته وویل: ته اصلاً په هېڅ پوهیږی نه. له کوم غره راکوز شوی یې نه وینی چې امیرخان څه کوی؟ ته اصلاً په هنر نه پوهیږی، نو چې نه پوهیږی غلی کینه او بل ته هم مزاحمت مه کوه.

بل ځوان په خورا خوږه ژبه ځواب ورکړ، ورته وی ویل: وروره زه نه له غره راکوز شوی یم او نه هم داده چې په هنر نه پوهیږم یواځی مې پردی زړه خوږ شو او وځوریدم چې ولی زما د هېواد یو ځوان چې دده انرژی ته زمونږ هېواد په اوسنی وخت کې ډېره اړتیا لری او هیواد باید پری ودان شی ولی بیخایه ځی. ته چې د ډوډی په وخت کې دومره فلم ته ګوری او تر اغیزی لاندی راغلی یې او ان بیخوده دی غږ له خولی اوچت شی نو په نورو وختونو کې به څه کوی. دا فلم هغه څه چې ښودل کیږی هسی نه وی او نه هم د فلم لوبغاړی دومره زورور یا دومره د زړه خوږی وی چې مو اغیزمن کړی. دا پریږده تجارانو او سوداګرو ته چې زمونږ له بیوزلو خلکو نه وخت او پیسی په وړیا تر لاسه کړی. فلم کتونکی ځوان چې ګواکی ډېره حوصله یې کړی وه او داسی یې ښودله چې ستا خبری می وانه وریدی، خو بیا یې هم نصحیت کوونکی ځوان ته وویل: چې ستا یې پر نورو څه خپل ځان سم کړه او غلی کینه. هغه په ځواب کې وویل: کور دی ودان وروره چې جګړه دی راسره ونه کړه او ودی نه وهلم خو بیا هم درته وایم چې زما دا خبری تا سره د خواخوږی لپاره وی نه د دښمنی لپاره.

از خدا خواهم بترکد اشکمت ناگه گرم!

سرگردان

هستی تاکی اینچنین تو در هوای بیش و کم
هر چه حادث میشود ناید به ابروی توخم
میزنی خود درمیان دالر و اسعار لوت
لیک بی غوزی کنی بر زیر دستان دمبدم
کو، چی شد انصاف ورحم تو که می لافی همیش؟
دیده بکشا کن به حال دیگران رحم وکرم
میخوری خود لقمه های چرب هر شب وین عجب
دیگران را لقمه نانی نیست دور از رنج و غم
نیستی یک شب تو فارغ از هوای دیش و گیم
گر چنین نبود، چرا چشمان تو کرده ورم؟
بسکه بیدادی نمودی پیشه ای دالر پرست!
غبغبت آویخته همچون زنان کردی شکم
گشته ای تو غرق در گرداب ذلت ای دریغ!
سر فروکن در گریبان دل بکن ازین نعم
اشک چشم مردمان از جور تو گردیده خشک
دیده بیچارگان از ظلم توشد پر زنم
لحظه یی از آسمانت سرفروکن برزمین!
ساعتی هم با فرودستان مسکین زن قدم
میکنی بر اشکم ملت بگو تاکی لگد
کرده ای جاری چرا برجان مظلومان ستم
چون که در قلب تو حس آدمیت گشته دفن
از خدا خواهم بترکه اشکمت ناگه گرم

پاکستان باید شویو پریکړو ته درناوي وکړي

په ځینو ولایتونو او د هېواد په سرحدي سیمو کې وروستیو پېښو او حوادثو وښودله چې زمونږ د هېواد او اولس دښمنان په هېواد کې د سولې او ثبات او د بیا رغونې د روانې پروسې سره په ضدیت کې هغه کارونه تر سره کوي، چې په ښکاره ددې وطن او دهغې د بچو سره خیانت، جفا او تېرې دي.

د وروستیو راولاړ شوو امنیتي ستونزو او په خوست، هلمند، پکتیا، کندهار، کنړ او ځینو نورو سیمو کې د القاعدې، د طالبانو د پاتو شونو او د حزب اسلامي وسلّه والو ډلو په ښکاره پخپلو حملاتو پیل کړیدي. دوی هماغه شان چې څه موده وړاندې ویلي وو چې خپلو تخریبي حملاتو ته به شدت ورکړي، هماغه ډلې چې یو کال مخکې د امریکې او د هغه د متحدینو له خوا ډرې، وړې شوي، اوس، اوس یې یو ځل بیا خپل صفونه برابر او خانونه یې ددې جوګه کړېدي چې خپل غلچکی بریدونه پیل کړي او یو ځای او بل ځای خانونه ښکاره کړي.

دوه شپې د مخه د خوست په ولایت کې په یوې سرحدي پوسته باندې برید دا وښودله چې دوی د چا په مرسته او د چا په ډاډ او هڅونې خپل دا راز تخریبي فعالیتونه تر سره کوي.

په دغه سرحدي پوسته باندې د شپې له خوا د هغه ځایه برید وشو چې هلته د پاکستاني ملیشو یوه سرحدي پوسته پرته وه، ددغې سرحدي پوستې یوه مسوول چې برید پرې شوی و په ښکاره الفاظو کې وویل کله چې برید کوونکی د پوستې د شدید مقاومت او متقابل برید سره مخامخ او په شاتګ ته اړ ویستل شول، نو د پاکستان په پوله واوښتل او پاکستاني سرحدي پوستې ته یې خانونه ورسول په دغه برید کې د تیرې کوونکو څخه زیاته اندازه مهمات هم پاتې شوی وو. چې هغه بیا د

اوس بیا هماغه دی چې القاعده او د طالبانو پاتې شونې چې اوس هم د هغوی په لمنه کې پراته دي، په شاتپوي او زمونږ په هېواد کې یې د امنیتي وضعې د خرابولو په خاطر هڅوي

افغاني سرحد ساتونکو له خوا را انتقال شول. په دغه برید کې د درنو او سپکو وسلو څخه کار اخستل شوی و.

په دې کې شک پاتې نه دی چې طالبان د پاکستان د استخباراتي ادارو له خوا یوه جوړه شوی ډله وه. چې د هغوی په نیغه مرسته یې څه د پسه پنځه کاله زمونږ په هیواد او هېوادوال و. هغه ناروا وي تر سره کړي. چې د تاریخ حافظه به یې د یاده ونه باسي. هغوی ددی ملت ټول مادي او معنوي شته د خاوُرو سره خاورې کړل. او هر څه یې لوټ کړل.

اوس بیا هماغه دی چې القاعده او د طالبانو پاتې شوني چې اوس هم د هغوی په لمنه کې پراته دي. په شاتپوي او زمونږ په هېواد کې یې د امنیتي وضعې د خرابولو په خاطر هڅوي. دا هغه څه دی چې د ټولو نړېوالو نورمونو پر خلاف او د هغو لوظنامو پر خلاف چې د دوارو هېوادونو تر منځ د ښه ګاونډیتوب او یو د بل په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې د ترون تر عنوان لاندې دوه، درې میاشتې د مخه د شپږو ګاونډیو هېوادونو تر منځ د پاکستان په شمول په کابل کې لاسلیک شو.

په کار نه ده چې اوس په خلیج کې د راولاړو شوو ستونزو نه دی ناوړه ګټه پورته شي او زمونږ ګاونډیان دی بیا د اوبو خړولو او ماهیانو نیولو سوچونه وکړي.

یو باثباته، با امنه او پر مخ تللی افغانستان نه یوازې د افغانانو لپاره په ګټه دی. بلکې دا په زمونږ د ټولو ګاونډیانو لپاره ګټور وي. ځکه مونږ د پاکستان د ملت سره نه شلیدونکی اړیکې لرو. چې دا ښې اړیکې د دوارو ملکونو په ګټه او خیر ښیګڼې دي. نو اوس په کار ده چې د پاکستان چاروا کې د افغانانو سره چې په وروستیو دوو لسیزو کې یې په کور کې د جګړې او ورور وژنې اورونه بل وو. د یوه مسلمان ښه ګاونډي په څېر چلند وکړي. ددوی سره د هېواد په بیا رغونې او دسولې او امنیت په راوستو کې مرسته وکړي نه دا چې

په دغه لاره کې خندونه واچوي او یا یې خپله په مخالف لور کې ودریږي.

باتور

مسوولیت بی کران

۱ـ امیری که افراد ملت را به مانند فرزندانش تلقی نکند، زیبنده امیری نیست و افراد آن جامعه را از بابت رشد لازم به مانند انسانهای بی پدر تلقی نمائید.

۲ـ هر رئیسیکه دل به گنج دنیا ببندد از کشف کنز فطرت خود بی نصیب گردیده در چاه فقر نفسش سقوط می کند، ولو اینکه دارای قصر های طلا باشد.

۳ـ بذر خیانت ها را با اعمال خاینانهء خود، روسای یک جمع، ناخود آگاه در قلب افراد تحت پوشش خود می افشانند.

۴ـ روسای یک کشور اگر عقل و روح خدایی شان در قلب آنها حاکم باشد هزار برابر از پدران آن جامعه کرده به فرزندان آن کشور سود دهنده و اثر بخش اند.

۵ـ اگر جلو داران یک ملت دارای روح آلوده و نفسانی گردند جوانان آن جامعه در چاه نفس شان اسیر بوده، بالهای روح قدسی آنها از پرواز های معنوی و معراجهای روحانی محروم میگردند.

۶ـ همچنان که قصر و کاخها، استوار به شالوده و بنیاد خود است، کاخ و قصر های ادب و اخلاق یک جامعه، استوار به بنیاد و شالوده اخلاق و ادب روسای آن میباشد.

۷ـ زیبنده روسای یک جامعه این است که ملبس بنه لباس صداقت و احسان، تقوا و ایمان، طهارت و وجدان و مهرو محبت های نجیبانه و درخشان باشند.

۸ـ بسی حسرت انگیز است که روسای یک کشور، از سکوی مقدس مقام شان در جهنم آلوده گی و فساد و رشوه ستانی و تجملات بادستهای نفس و شهوات خویش، خود را سرنگون سازند.

۹ـ سکوی مقام روسای یک ملت اگر در بند تارغکبوتی نفس و کمند اهریمنی خویش اسیر نباشند، چه رفیع و بلند است برای جهش و معراج روح قدسی شان.

سید محمد هاشم "هاشمی"

از عمل تروریستی جلوگیری بعمل آمد

موظفین امنیتی با کشف دو راکت BM12 در ساحه پل چرخی از یک توطیه دیگر تروریستی جلوگیری نمودند.

موظفین امنیتی حوزه دوازدهم می گویند:

این راکت ها را زمانی کشف و خنثی ساختند که در تپه ای مشرف به قوای پانزده زرهدار آماده پرتاب بالای مناطق مسکونی بود.

به اتهام این قضیه کسی تا کنون دستگیر نگردیده و عاملین آن شناسایی نشده است.ولی گفته می شود که این عمل کار تروریستانی است که هدف ایجاد وحشت و رعب را در کابل دارند.

پل چرخی کابل جایی که قطعات و جز و تام های ISAF در آن موقعیت دارد قبلا نیز در چند مورد هدف حملات راکتی قرار گرفت.

که هیچ گاهی تلافات انسانی نداشته است.

اجلاس موسسات غیر حکومتی تدویر یافت

مجموعه عمومی اداره هماهنگی موسسات غیر حکومتی افغانی ANCB در هوتل سپین زر کابل دایر گردید.

اژانس اطلاعاتی باختر خبر داد درین جسله سید فضل الله واحدی رئیس آن اداره گزارش کار موسسه مربوط را به مجموعه عمومی ارایه نموده ضمن یاد آوری از فعالیت های موسسات غیر حکومتی در جریان سالهای گذشته از بی تفاوتی ها و خود سری های بعضی از انجو ها نیز انتقاد نمود.

همچنان در این جلسه کمیسیون مشورتی انتخاب گردید که تا قبل از فرا رسیدن سال نو هجری شمسی در سیستم تشکیلاتی این موسسه رسیده گی نماید.

در این جلسه نماینده وزارت پلان از سهمگیری انجو ها در اعمار کشور ابراز قدردانی نموده. و در اخیر سه انجوی افغانی به عضویت این موسسه پذیرفته شد.

In this issue

1- Ismail Khan goes to Iran
2- Protests against Policies of police in Kabul
3- A school is robbed in Kandahar
4- Exhibition of Iranian arts in Kabul
5- Americans arrest a commander in Jalalabad
6- American attack on Iraq and its effects on Afghanistan
7- Youth page
8- Praiz threatens Palestinians
9- I pray your belly blasts
10- Is only assurance enough?
11- Karzai got the award

ارادہ
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
زیر نظر هیأت تحریر انتشار میابد
مدیر مسوول : ظهور افغان
سکرتر مسوول: سید محمد "عادل"
معاون: اسماعیل "تیمور"
ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد هاجی میر احمد)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷ ۰۷۰۲۷۹۳۰۴
موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داود
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز ودیزاین انجینیر:محمدجمیل "امیری" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
قیمت یک شماره ۲ افغانی
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787 / 070279304